# د مهاجرينو مسئله او په اسلامي نظام کې يې اهميت

ليکوال: ( ابو صهيب) مولوي نعيم الحق حقاني
ژباړه: عبدالباري اتل

وروسته له هغه چې له ګاونډي هېواده، د مهاجرينو د اجباري اېستلو مسئله د ورځنيو موضوعاتو د بحث پر محور بدله شوه؛ د افغانستان د اسلامي امارت رهبري (په رأس کې عاليقدر شيخ اميرالمؤمنين صاحب حفظه الله) له يوې لحظې ځنډ پرته، پر کابينې د يوه فوق العاده فرمان په ورکولو سره، د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې کمېسيون پر تشکيل ټينګار وکړ، چې ډېر ژر د رياست الوزراء د اداري مرستيال، جناب محترم الحاج مولوي عبدالسلام حنفي صاحب حفظه الله، په سرپرستی، پر دولس کمېټو مشتمل کمېسيون رامنځته شو، چې هرې کمېټې د يوه وزارت تر رياست لاندې په خپلواکه توګه مهاجرينو او راستنېدونکو ته د خدمتونو وړاندې کولو کار پيل کړ. د جناب الحاج مولوي عبدالسلام حنفي صاحب حفظه الله په سرپرستی ياد کمېسيون چې وزيران يې هم په تشکيل کې شامل دي، په دوامداره ډول مهاجرينو ته په ټولو اړينو برخو کې خدمتونه وړاندې کوي.

د يادونې وړ ده، چې د هېواد بېلابېلو برخو کې د راستنېدونکو او مهاجرينو اضطراري وضعيت ته په کتو، د حنفي صاحب په ګډون؛ اکثره وزيران د مهاجرينو او راستنېدونکو د راټولېدنې ساحو ته ورغلل چې دا کار د دولت او ملت د خدماتي پرسونل د تشويق او هڅونې سبب وګرځېد. دغه راز هېواد ته د مهاجرينو د داخلېدو ساحې ته د اسلامي امارت د مشرانو ورتګ او هغوی ته ښه راغلاست ويل؛ د راستنېدونکو هېوادوالو د زياتې خوښۍ لامل شو او تر ډېره يې د هغوی د اجباري اېستلو دردونه کم کړل. په کلي ډول د اسلامي نظام لخوا چې مهاجرينو ته د هرکلي کومه صميمي فضا رامنځته شوه؛ مهاجرينو د دې فضا په ليدو سره خپل د سفر او اجباري اېستلو دردونه هېر کړل. دغه کار د ډېرو نيکو او خير غوښتنونکو هېوادوالو او سوداګرو د هڅونې سبب شو او هغوی هم له حکومتي افرادو سره، اوږه په اوږه د خپلو هېوادوالو استقبال ته ورغلل او د مادي او معنوي مصارفو په ګاللو سره يې د وروروليۍ روحيې ته پياوړتيا ور وبښله. د اسلامي امارت د حکومت او د افغانستان د متدين ملت لخوا د مهاجرينو د استقبال لپاره د فداکارۍ او صميميت رامنځته شوې فضا د دې سبب شوه، کله چې ډېری مهاجرينو او راستنېدونکو د اسلامي نظام تود هرکلی، مهرباني او صميميت وليد، نو د افغانستان د سولې او ثبات دښمنانو د ټولو کاذبو او دروغجنو تبليغاتو حقيقت ورته څرګند او په دې پوه شول چې د اسلامي نظام حقيقت څه دی او د افغانستان دښمنانو څومره بې اساسه او کاذب تبليغات کول؛ دغو مهاجرينو چې د خپل نظام او هېوادوالو مينه او درناوی وليد، نو هغو هېوادوالو ته يې هم چې په بهرنيو هېوادونو کې د کډوالۍ سختې ورځې شپې تېروي انګېزه ورکړه او ويې هڅول څو خپل اصلي وطن ته راستانه شي، دلته خپل عزت او درناوی ووينې او په خپل وطن کې د شخصي کار په پيلولو سره د ملک په ابادۍ کې ونډه واخلي. د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې کمېسيون دولس ګونو کمېټو هرې يوې په خپل وار سره، د دوی محوله امورو کې د عاليقدر شيخ امير المؤمنين حفظه الله، د هداياتو د تطبيق برخه کې خپله بېدرغه هڅه او کوښښ کړی او د هرې کمېټې مسئولينو د خدای ج د رضا حاصلولو او د ورسپارل شويو مسئوليتونو د تطبيق برخه کې د خپل رهبر د فرمان د اطاعت لپاره يې بېسارې هڅې کړې چې تر دې دمه په پوره قوت او شدت سره دوام لري. د اسلامي امارت ټول مسئولين له مهاجرينو او راستنېدونکو سره د مرستې برخه کې ځان مکلف بولي د اسلامي نظام او د شريعت په سپېڅلي چوکاټ کې يې د بشردوستۍ ښکلې صحنې په عملي بڼه هېوادوالو او نړيوالو ته ور وښودې او

په ډاګه یې کړه، چې افغانستان د یو خدمت کونکي دولت او فداکاره ملت لرونکی دی او د وحدت او اتفاق فضا کې له یو او بل سره مرسته کوي او خپلو ستونزو او مشکلاتو ته په ګډه حللاره پیدا کوي.

د کمېسیون دولس ګونې کمېټې خپل ورځني فعالیتونه، په ښه او معیاري شکل د کمېسیون له رهبرۍ سره شریکوي او له رهبرۍ څخه د لا ښو خدمتونو وړاندې کولو په موخه اړینې لارښونې ترلاسه کوي. همدارنګه د کمېسیون رهبري هم د هرې ورځې په پای کې د اسلامي امارت رهبرۍ عالي مقام دفتر ته د تر سره شویو فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کوي او مهاجرینو ته د خدمتونو وړاندې کولو پروسه کې د اسلامي امارت رهبرۍ عالي مقام اړین هدایات ترلاسه کوي او د تطبیق لپاره یې په ډېر اخلاص او علاقمندۍ سره هڅه او کوښښ کوي.

د افغانستان خلک، په ځانګړي ډول مهاجرین او راستنېدونکي به هېڅ کله هم د مجاهد ملت په همکارۍ د اسلامي امارت لخوا دوی ته برابرې شوې ښکلې او صمیمي شېبې هېرې نه کړي او د اسلامي نظام دغه د صمیمیت او مهربانۍ فضا به نوره هم زمونږ د ولس د هڅونې سبب شي.

د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د مجاهد ملت د کامیابۍ په هیله